## قرآني بيان

# د عبادت د لارې خنډان

د مدني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه امام مساجد (دعوتِ اسلامي)
لاندې جوماتونو د پاره

په 13 مارچ، کال 2026ء
(بمطابق: 23 رَمَضَانُ الْمُبَارَک، کال 1447ھ)
د جُمعَةُ المبارک

د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پهٔ 13 مارچ، کال 2026ء (بمطابق: 23 رَمَضَانُ المُبَارَک، کال 1447ھ) د جُمعَةُ المبارک

قرآني بيان

پهٔ نوم

# د عبادت د لارې خنډان

پهٔ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- خوښ عمل کوم يو؟
- د عبادت د لارې خنډان
- يو ښه نصيحت
- د صحابئ رسول رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ بے مثاله اِستقامت (واقعه)

پیشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ؕ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ؕ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ الله

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ الله

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُود شریف فضیلت

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** ◈ چا چې قرآنِ پاک ولوستلو ◈ د رَبِّ کریم حمد یې اوکړو ◈ په نبي پاک صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې یې درود شریف ولوستلو او ◈ د خپل رَبّ نه یې بخښنه وغوښتله نو هغه خیر د هغه په ځائے کښې ولټولو۔ (1)

یه وظیفه ہے قوّتِ مومن | ہونے دے گا نہ خَم درود و سلام
وہ دعا مستجاب ہوتی ہے | جس میں ہوتا ہے ضَم درود و سلام
طاعتیں سب اسی سے ہیں مَقبول | طاعتوں میں اَتم درود و سلام
یہ وظیفہ ہے قوّتِ مومن | ہونے دے گا نہ خَم درود و سلام

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰی فِی الْقُرْاٰنِ الْکَرِیْم (الله پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي):

---

1 ... شعب الایمان، باب فی تعظیم القرآن، فصل فی استحباب التکبیر...الخ، جلد:2، صفحه:373، حدیث:2084۔

رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ وَ مَا بَیْنَهُمَا فَاعْبُدْهُ وَ اصْطَبِرْ لِعِبَادَتِهٖ ؕ هَلْ تَعْلَمُ لَهٗ سَمِیًّا ﴿۶۵﴾

(پاره: 16، سورهٔ مریم: 65)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِیْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِیُّ الْکَرِیْم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: د اسمانونو او زمکې او څۀ چې د دوئي په مینځ کښې دي د ټولو رب (هُم هغه دے) نو هُم د هغۀ عبادت کوه او د هغۀ په عبادت کلک ودرېږه، آیا تۀ د الله په نوم بل څوک پیژنې؟-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِیب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د رَمَضَانُ الْمُبَارَک برکتي، د نُور نه ډک، د سپرلي ګرځ دي، هر وخت رحمتونه راوریږي، هر ساعت برکتي دے، خوش قِسمته دي هُغه خلق کوم چې د ظاهري او د باطني آدابو سره په روژو نیولو، د زړۀ په خوشحالۍ په 20 رکعته تراویح، د پیشمني او د روژه ماتي په برکتونو حاصلولو د رَمَضَانُ الْمُبَارَک سپرلي حاصلوي او ډېر محرومه او بد قِسمته دي هُغه خلق کوم چې په دې بختورو ساعتونو کښې هم د نیکو نه محرومه دي، روژې نۀ نیسي، تراویح نۀ کوي یا کوي یې هم خو پوره یې نۀ کوي، د بخښنې او د مغفرت او د رحمت په دې عظیمه میاشت کښې هم د الله پاک او د رسولِ کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رضا والا کارونو کولو نه لرې دي- **د دواړو جهانو سلطان، شهنشاه د کون او مکان** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمائیلي دي**: زما اُمت به ذلیله او رسوا کیږي نۀ، تر څو پورې چې هغوئي د رمضان د میاشتې حق ادا کوي- عرض اوکړے شو: یا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د رمضان په حق ضائع کولو کښې د هغوئي ذلیل او رسوا کیدل څۀ دي؟

اوئې فرمائيل: په دې مياشت کښې د هغوئې حرام کول- نور يــې وفرمائيل: **تاسو د رمضان د مياشتې په معامله کښې ويرېږئ!** ولې چې څنګه په دې مياشت کښې نيکئ زياتولے شي ، دغه شان د ګناهونو معامله هم ده- (1)

الله پاک دې زمونږه د روژې د مياشتې په ښه انداز کښې ◈ د الله پاک د رضا والا په کارونو کولو ◈ د هر يو ساعت په قدر کولو ◈ په نيکو کښې ◈ په عبادتونو کښې ◈ په ذِکر او فِکر کښې ◈ د قبر په يادولو ◈ د مدينے منورې يادونه په زړه کښې په کښېنولو ◈ د ښو اخلاقو په ښرګندولو ◈ د مور او پلار په ادب کولو ◈ د عزيزانو خپلوانو سره په ښېګړه کولو ◈ د ګاؤنډيانو په حقونو ادا کولو ◈ د غريبانو په مدد کولو او ◈ د رَمَضَانُ المُبَارَک د فيضان نه د جولو ډکولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

گناہوں کی نحوست بڑھ رہی ہے دم بدم مولیٰ!
میں توبہ پر نہیں رِہ پا رہا ثابِت قدم مولیٰ!
میں رحمت، مغفرت، دوزخ سے آزادی کا سائِل ہوں
مہِ رمضان کے صدقے میں فرما دے کرم مولیٰ! (2)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] ... معجم صغير، باب العين، باب من اسمه عبد الملک، صفحه: 499، حديث: 697 ملتقطًا-

[2] ... وسائلِ بخشش، صفحه: 9897 ملتقطًا-

# د آیت مبارک ترجمه او وضاحت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږ د 16 سیپارې، د سورۀ مریم د آیت: 65 د اوریدو سعادت حاصل کړو، الله پاک اِرشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ وَ مَا بَيْنَهُمَا فَاعْبُدْهُ وَ اصْطَبِرْ لِعِبَادَتِهٖ ؕ هَلْ تَعْلَمُ لَهٗ سَمِيًّا ﴿۶۵﴾ (پارہ:16، سورۂ مریم:65) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: د اسمانونو او زمکې او څهٔ چې د دوئي په مینځ کښې دي د ټولو رب (هُم هغه دے) نو هُم د هغهٔ عبادت کوه او د هغهٔ په عبادت کلک ودریږه، آیا تهٔ د الله په نوم بل څوک پیژنې؟- |

یعنې خوږه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! اسمان او زمکه او څهٔ چې په دې کښې دي د ټولو مالک ستاسو خوږ رَبّ الله رَبُّ العِزت دے، تاسو د هغهٔ عبادت کوئ او په هغې باندې ثابت قدم اوسیږئ! آیا تاسو څوک د الله پاک پهٔنوم پیژنی؟ هیڅکله نهٔ--!! یعنې الله پاک یو دے، یواځې دے، لا شریک دے او د هغهٔ دا وحدانیت (یعنې یو کیدل) دومره واضحه دي، دې حد ته رسیدلي دي چې د هغهٔ په شان بَل څوک دویم کیدل خو غټه خبره ده، د هغهٔ د نوم پهٔ شان نوم هم د چا نشته، د دې پورې چې غیر مسلمه کوم چې د الله پاک سره شریکان کرځوي، دوزخ ته تلونکي کارونه کوي، د هغوئي هم داسې جرأت نهٔ دے

شوے چې د خپلو دروغژنو خدايانو نوم الله کيږدي-[1] دا هم ستاسو د رَبّ شان دے لکه څنګه چې هغه پخپله يو او يواځې دے، داسې د هغه نوم هم واحِد او يواځې دے-

| | |
|---|---|
| اللہ واحد و یکتا ہے، ایک خُدا بس تنہا ہے | کوئی نہ اس کا ہمتا ہے، ایک ہی سب کی سنتا ہے |
| لَآاِلٰهَ اِلَّا اللہ | اٰمَنَّا بِرَسُوْلِ اللہ |
| وہ ہے مُنَزَّہ شرکت سے، پاک سکون و حرکت سے | کام ہیں اس کے حکمت سے، کرتا ہے سب قدرت سے |
| لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللہ | اٰمَنَّا بِرَسُوْلِ اللہ[2] |

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## عبادت کوئ! په کلکه يې کوئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! په دې آيت مبارک کښې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته او د هغوئي په ذريعه مونږ د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم غلامانو ته د 2 خبرو حکم راکړے شوے دے: (1): فرمائي:

| | |
|---|---|
| فَاعْبُدْهُ (پاره:16، سورۂ مريم:65) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: نو هُم د هغهٔ عبادت کوه- |

يعنې هغه الله پاک دےځوک چې د زمکې او اسمان خالِق هم دے، مالِک هم دے،

---

[1]... تفسير صراط الجنان، پاره:16، سورۂ مريم، زير آيت:65، جلد:6، صفحه:137 خُلاصةً-

[2]... سامانِ بخشش، صفحه:3332 ملتقطًا-

هغه د ټولو جهانونو پالونکے هم دے، نو بس د هغهٔ عبادت کوه! (2): دویم حکم یې دا اوکړو چې

وَاصۡطَبِرۡ لِعِبَادَتِهٖ ؕ
(پاره:16، سورهٔ مریم:65)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او د هغهٔ په عبادت کلک ودرېږه۔

یعنې د عبادت په لاره کښې که مشکلات راځي، خوارۍ کول وي خو تاسو په دې باندې ثابت قدم اوسئ، کلک ودرېږئ، په مستقل مزاجۍ سره عبادت کوئ! [1]

## د رمضان په ټوله میاشت کښې عبادت کوئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! یو بهترین سبق دے: عبادت کول او په کلک ودریدو، په مستقل مزاجۍ سره کول- دلته دا یوه لویه مسئله ده- مونږ د عبادت طرف ته خو مائله کیږو خو په هغې باندې اِستقامت نهٔ اِختیاروو، په عبادت باندې همیش والے نهٔ اختیاروو- اوس لکه چې څنګه رَمَضَانُ الْمُبَارَک تشریف راوړو، د رَمَضَانُ الْمُبَارَک په راتللو سره د عبادت رغبت زیاتیږي، مونږ ډیرې نیکۍ اِرادې کوو خو په ورو ورو په شوق کښې کمے راتلل شروع شي، د رَمَضَانُ الْمُبَارَک په وړومبۍ عشره کښې په جوماتونو کښې رش وي، په تراویح کښې هم ښه ډیر خلق په نظر راځي، د تِلاوت طرف ته هم خلق مائله کیږي خو په دویمه عشره کښې دا شوق کمیږي، د نمونځ کوونکو شمیره هم کمه شي، په تراویح کښې هم لږ خلق پاتې شي ، دا چې کوم کمے دے، دا نهٔ دے پکار دے، دا ښه

[1]... تفسیر کبیر، پاره:16، سورهٔ مریم، زیر آیت:65، جلد:7، صفحه:555 خلاصةً۔

خبره نهٔ ده۔

## خوښ عمل کوم يو دے؟

د مسلمانانو د خوږې مور جانې سَيِّده عائِشه صِدِّيقه رَضِیَ اللہُ عَنْہا نه پوښتنه اوکړے شوه: د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټولو نه خوښ عمل کوم يو وو؟ اوئې فرمائيل: مَا دِیْمَ عَلَیْہِ هُغه نيک کار پهٔ کوم چې هميش والے اِختيار کړے شي۔ [1]

يعني زمونږ د خوږ آقا و مولا، رسولِ خُدا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نيکي کول او مسلسل نيکي کول خوښ وو، نيکي شروع کول او بيا پريښودل، نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نهٔ خوښول۔ حضرت عبد الله بن عَمرو رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ما ته وفرمائيل: اے عبدُ الله! د فلانکي کَس پهٔ شان مهٔ کيږه، هغه به د شپې عبادت کولو، بيا يې پريښودو۔ [2]

دا زمونږ د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ښکلے نصيحت دے، چې دا مونږ هم قبول کړو، چې کومه نيکي هم کوو، پهٔ اِستقامت سره يې کوو، مسلسل يې کوو۔ د الله پاک نيکانو بندګانو به هم داسې کول ◈ حُضُور غوثِ پاک رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ به د ماسخوتن پهٔ اوداسه باندې د سحر نمونځ ادا کولو (يعني د شپې به نهٔ اودهٔ کيدو، ټوله شپه به يې عبادت کولو) او د 40

---

[1]... ترمذی، کتاب الادب، صفحه:664، حدیث:3856۔

[2]... بخاری، کتاب التهجد، باب ما یکره من ترک قیام اللیل...الخ، صفحه:333، حدیث:1152۔

کالو پورې د هغوئ هم دا معمول وو [1] ◈ اِمام احمد بن حنبل رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه به روزانه 300 رکعته نفلونه کول [2] ◈ د حضرت ثابِت بُناني رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د 50 کالو پورې دا طريقه وه چې هغوئ به ټوله ټوله شپه نـمونځ ادا کولو- [3] ◈ د اِمامُ الائمه، اِمامِ اعظم اَبُو حَنيفه رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه معمول وو چې ټوله شپه به يـې عبادت کولو او تهجد به يـې کول- د 30 کالو پورې يـې دا انداز وو چې روزانه به يـې د شپې په يو رکعت کښې ټول قرآنِ مجيد مکمل کولو- [4]

اَللّٰهُ اَكۡبَر! اندازه ولګوئ چې دومره دومره موده په روټين (***Routine***) سره، د مستقل مزاجئ سره عبادت کول، عبادت کول، په مينځ کښې پکښې قضا نهٔ راوستل، څومره د کمال خبره ده- الله پاک دې زمونږ هم داسې توفيق نصيب کړي-

اٰمِيۡن بِجَاهِ خاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د عبادت دلارې خنډان

اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! 4 څيزونه دي کوم چې د عبادت په لاره کښې

---

[1]… بهجة الاسرار، ذکر طريقه رَضِیَ اللهُ عنه، صفحه:164-

[2]… حلية الاولياء، الامام احمد بن حنبل، جلد:9، صفحه:192، رقم:13657-

[3]… حلية الاولياء، ثابت بنانی، جلد:2، صفحه:362، رقم:2566-

[4]… فتاوىٰ رضويه، جلد:7، صفحه:476-

خنډونه [يعنې رکاوټونه] جوړېږي- دې ته **عَوَائِقِ اَرْبَعه**(يعنې 4 خنډونه) وئيلے شي- اِمامِ غزالي رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ په **مِنْهَاجُ العَابِدِيْن** کښې دا په تفصيل سره ذِکر کړي دي- هغه 4 څيزونه دا دي:

**(1)**: زمونږ نفس **(2)**: شيطان **(3)**: دُنيائي تعلقات **(4)**: دُنيا- [1]

دا 4 خنډونه [يعنې رکاوټونه] لرې کړئ نو **اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم**! په عبادت به مو اِستقامت نصيب شي-

## وړومبے خنډ: نفس

**وړومبے خنډ دے: نفس**- دا مونږ ناراسته کوي ◈ لږ ساعت پس يے کووم ◈ سبا به يې اوکړم ◈ نن مې ورته ډېر نۀ لګي وغيره داسې خيالونه راځي او اِنسان د عبادت نه محرومه پاتې کيږي- د دې خنډ دوه علاجونه دي:

## وړومبے عِلاج: خود آمادګي *(Self-motivation)*

**وړومبے عِلاج دے**: سيلف موټيويشن ***(Self-motivation)*** يعنې خپل ځان پخپله عبادت ته مائله کول- د الله پاک نيکانو بندګانو به هم داسې کول، د حضرت عبد العزيز بن اَبُو رَوَّاد رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ په باره کښې راځي چې کله به شپه کيدله نو د خپلې بسترې خوا له به يې تشريف وړلو، په هغې باندې به يې لاس راښکلو، بيا به يې فرمائيل: اے بسترې! بے شکه تۀ ډېره نرمه او ښه يې خو په الله پاک مې دې قَسم وي! په جَنَّت کښې به ستا نه هم ډېرې نرمې بسترې وي- د دې وئيلو سره به ودريدو او ټوله شپه به يې په عبادت

---

[1] ...منهاج العابدين، صفحه:62۔

کښې تیروله۔ [1]

هم داسې د حضرت رابعه بصریه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا په باره کښې منقول دي چې هغې به ټوله شپه عبادت کولو، بیا به د سحر د نـمونځ نه لږ مخکښې هم په مُصله باندې سملاستله، کله چې به د سحر د نـمونځ وخت شو نو راپاڅیدله به او خپل نفس ته به یـې وئیل: رابعې! د څو پورې به اوده یـې، **کیدے شي چې هم دا ستا اخرۍ ورځ وي، نن عبادت اوکړه! په قبر کښې به په ارام سملې** - په دې وئیلو سره به په عبادت کښې مصروفه شوله او ټوله ورځ به یـې په عبادت کښې تیروله، بیا به چې کله شپه شوه نو ځان ته به یـې وئیل: **رابعې! کیدے شي چې هم دا ستا اخرۍ شپه وي، نن عبادت اوکړه! په قبر کښې به په ارام سملې** - په دې وئیلو سره به یـې ټوله شپه په عبادت کښې تیروله- [2]

سُبْحٰنَ الله! دا دے سیلف موټیویشن یعني خپل ځان له هم پخپله د نیک کارونو رغبت ورکول، مونږ له هم دا انداز اِختیارول پکار دي ◈ د عبادت فضیلتونه لولئ! ◈ دغه فضیلتونه په زړهٔ زړهٔ کښې بیا بیا یادوئ! ◈ د جَنَّت د نعمتونو ذِکر لولئ! او ◈ په خپل ځان کښې د دغه نعمتونو حِرص پیدا کوئ، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! په نیک کارونو کښې به ناراستي نهٔ راځي-

---

[1]...احیاء العلوم، کتاب ترتیب الاوراد...الخ، الباب الثانی، فضیلة قیام اللیل، جلد:1، صفحه:470۔

[2]... حکایات الصالحین، الباب الثالث فی المجاہدات، صفحه:11۔

## دويم عِلاج: صبر

د نفس د خنډ نه بچ کېدلو او په عبادت کښې د مصروفه اوسېدلو دويم عِلاج **صبر** دے۔ په عبادت باندې صبر اِختيار کړئ! نن سبا چې لکه څنګه د رَمَضَانُ الْمُبَارَک برکتونه نازلېږي، مونږ سحر پيشمنے اوکړو او روژه نيسو، ماسپښين وږي او تږي شو، بيا مونږ څۀ کوو؟ صبر--!! يعني دغه لوږه او تنده برداشت کوو، برداشت کوو، د دې پورې چې د روژه ماتي وخت شي، بس دا چې کوم برداشت دے، هم د دغه برداشت نه کار اخستل، د نفس عِلاج دے۔ د څۀ مودې پورې چې مونږ په نيکو باندې داسې صبر اوکړو، که نفس ناراستي راکوي نو يو ځل بيا بس د زړۀ نه په عبادت کښې مصروف شو، د څۀ مودې پورې به ګرانه وي، بيا به ورو ورو نفس عادت شي۔ بيا به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ګرانه نۀ وي۔

## د صحابئ رسول رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ بے مثاله اِستقامت

حضرت جابِر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: يو ځل مونږ د الله پاک د خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره يوې غزا [يعني غزوه] له لاړو، په واپسی کښې مونږ يوې غرئيزې علاقې ته راورسيدو، رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هلته د قيام کولو حکم وفرمائيلو۔ ټول صحابهٔ کرام عَلیھِمُ الرِّضوَان د ارام د پاره هلته ايسار شول۔ د الله پاک حبيب، د زړونو طبيب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: بيګاه له به څوک څوکۍ اوکړي؟ يو مهاجر او يو اَنصاري صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُما ودريدل او عرض يې اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! دا سعادت مونږ حاصلول غواړو، مونږ قبول کړئ! رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِجازت

ورکړو، نو څُغه دواړه صحابهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهما د څوکۍ د پاره تیار شول، دې دواړو په خپل مینځ کښې مشوره اوکړه او دا يې وټاکله چې د نیمې شپې پورې به يو څوکۍ کوي، دويم به ارام کوي، بيا به وړومبے ارام کوي او دويم به څوکۍ کوي- بس وړومبۍ نیمه شپه مهاجر صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ ارام اوکړو او انصاري صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ څوکۍ شروع کړه- چې لږ وخت تیر شو نو اَنصاري صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ په نـمونځ ودريدو او د سورهٔ کَهف تِلاوت يې شروع کړو-

دغه وخت ناڅاپه د دښمن يو کَس پهٔ غر باندې راوختو او پهٔ غشو ويشتل يې شروع کړل- دښمن چې کوم وړومبے غشے راويشتو پهٔ هغې باندې انصاري صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ ولګيدو-

اَللّٰهُ اَکْبَر! د صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان د عبادت شوق څومره زيات دے---! انصاري صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ پهٔ غشي لګيدلے وو، د دې باوجود هغوئي هيڅ حرکت اونکړو او هم هُغسې پهٔ نـمونځ کښې مشغول وو، ظالِم دښمن پهٔ دويم غشي وويشو، پهٔ هغې هم انصاري صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ ولګيدو، انصاري صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ بيا هم نـمونځ مات نهٔ کړو، دښمن پهٔ دريم غشي وويشو، پهٔ هغې هم صحابئ رسول رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ ولګيدو، بيا هُغه صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ زر رکوع او سجده اوکړه، نـمونځ يې مکمل کړو او خپل ملګرے يې راويښ کړو- غشي ويشتونکي دښمن چې کله وکتل چې دے يواځې نهٔ دے، د هغوئي ملګري هم د هغوئي سره دي نو هغه فوراً وتښتيدو- دلته چې مهاجر صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ خپل ملګرے پهٔ زخمي حالت کښې وليدو نو زر زر يې د هغوئي د وجود نه غشي راويستل او پوښتنه يې اوکړه: پهٔ تاسو چې دښمن حمله اوکړه نو تاسو زهٔ ولې راويښ نهٔ کړم؟ پهٔ دې باندې پهٔ قرآن او

نـمونځ باندې مئين هغه انصاري صحابي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ ووئيل: **ما په نـمونځ کښې د يو سُورت تِلاوت شروع کړے وو، ما دا ښه اونۀ ګڼل چې سُورت په نيمه کښې پرېږدم او نـمونځ مات کړم۔** په خُدائے مې دې قَسم وي! که ماته حضور صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د څوکۍ ذمه وارې نۀ وه سپارلې نو ما به خپل ژوند ورکړے وو خو سُورت به مې ضرور مکمل کولو۔ [1]

| | |
|---|---|
| عِبادت میں لگ جائے دل یاالٰہی! | مرے دل سے غَفلت کا پردہ ہٹا دے |
| خدا! نفس نے ہے تباہی مچائی | مری سب بری خواہشوں کو مٹا دے[2] |

سُبْحٰنَ الله! څومره د کمال صبر دے، په غشي ولګيدو، ظاهره ده چې درد به يـې کولو، د دې باوجود صحابئ رسول رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ په عبادت کښې مصروف وو، کاش چې مونږ هم د داسې صبر والا جوړ شو، دلته خو حالت څۀ بل شان دے، په وړو وړو خبرو خلق د عبادت نه محرومه پاتې کيږي ◈ که افطار پارټې وي نو د ماښام نـمونځ ناوخته کوي ◈ جَمعه پرېښودلے کيږي ◈ بلکې نـمونځ هم قضا کيږي، دا هم څۀ لرې نۀ ده ◈ په سَر معمولي شان درد وي ◈ معمولي تکليف راشي ◈ د دُنيا څۀ کار راپيښ شي نو جَمعه پرېښودلے کيږي، نـمونځونه قضا کولے شي ، د معمول اوراد او وظيفې پرېښودلے کيږي--!! کاش چې زمونږ هم په عبادت باندې صبر نصيب شي۔ عبادت کول، ضرور کول دي، زمونږ د ژوند اصلي مقصد هم عبادت دے نو په دې باندې صبر اِختيار کړئ! ګرانه به وي، کارونه

---

[1]… مسند امام احمد، مسند جابر بن عبدالله، جلد:6، صفحه:199، حديث:15246۔

[2]… وسائلِ فردوس، صفحه:5۔

به هم راپيښيږي، خواري به هم غواړي، ناراستي به هم راځي، نفس به د کمزورۍ نه هم کار اخلي، کيدے شي چې دېږي ورته هم نه لګي خو مونږ له عبادت ضرور کول پکار دي، داسې چې پهٔ اِستقامت سره د زړهٔ نه عبادت کوو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! يو وخت به راشي چې عبادت به زمونږ د رُوح خوراک جوړ شي، د څو پورې چې عبادت نهٔ کوو، سکون به هم نهٔ ميلاؤيږي- الله پاک دې مونږ ته داسې توفيق راعطا کړي، کاش چې د عبادت خوند مو نصيب شي-

| | |
|---|---|
| صبر سے اور نمازوں سے چاہو مدد | پوری کروائے ہر ایک حاجت نماز |
| جو مسلمان پانچوں نمازیں پڑھیں | لے چلے گی انہیں سُوئے جنّت نماز |
| دیکھو! اللہ ناراض ہو جائے گا | بھائیو! تم کبھی چھوڑنا مَت نماز[1] |

## دويم خنډ: شيطان

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د عبادت پهٔ لاره کښې دويم خنډ شيطان دے- نن سبا خو اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دې مصيبت نه خلاص يو، شيطان قيد دے- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! رَمَضَانُ الْمُبَارَک به د شيطان نه پهٔ حفاظت کښې تير شي- البته د رَمَضَانُ الْمُبَارَک نه پس د دهٔ نه بچ کيدل ډير ضروري دي او د شيطان نه د حفاظت بهترينه طريقه هم دا ده چې دهٔ ته توجه نهٔ کوې- يو ځل د حضرت رابعه بصريه رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡها نه چا پوښتنه اوکړه: تاسو اِبليس دښمن ګڼئ؟ اوئې فرمائيل: زهٔ د رحمان پهٔ محبت کښې داسې مصروفه يم چې د شيطان د دښمنۍ

[1] ...وسائلِ فردوس، صفحه:2322 ملتقطاً-

تصور هم نۀ کووم- (1)

سُبْحٰنَ الله! دا د شيطان نه د بچ کيدو بهترينه طريقه ده چې د هغه طرف ته هډو پام نۀ کوې، الله الله کوې، پۀ نيک کارونو کښې مصروف اوسې، چې وسوسه راځي نو لرې کوې يې، د جَنَّت خيال پۀ ذِهن کښې راولې، د الله پاک نعمتونه پۀ خيال کښې راولې، پۀ زړۀ کښې د شُکر جذبې زياتې کړې، د دوزخ ذِکر لولې، د هغې وحشتونه رايادوې اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د شيطان طرف ته به توجه نۀ ځي، نيک کارونو ته به مو زړۀ کيږي-

## د الله پاک نه پناه غواړئ!

د شيطان نه د بچ کيدو يوه طريقه دا هم ده چې د الله پاک نه د دې خراب دښمن د پناه غوښتو عادت جوړ کړئ! حکيمُ الامت مفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: صوفيائے کرام رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم فرمائي: څوک چې سحر او ماښام لَاحَول شريف پۀ اوبو باندې دم کړي او وه يې څښي نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د شيطان د وسوسو نه به د ډير حده پورې پۀ اَمن کښې وي- (2)

| | |
|---|---|
| مُحيط دل پہ ہوا ہائے نفسِ اَمّارہ | دِماغ پر مرے اِبلیس چھا گیا یاربّ! |
| رِہائی مجھ کو ملے کاش! نفس و شیطاں سے | ترے حبیب کا دیتا ہوں واسطہ یاربّ!(3) |

[1]... تذکرة الاولیاء، باب ہشتم، ذکر رابعة رَحمةُ اللهِ عَلَيْها، جلد:1، صفحه:71-

[2]... مرآة المناجيح، جلد:1، صفحه:87-

[3]... وسائلِ بخشش، صفحه:54-

الله پاک دې مونږ د نفس او د شیطان د شَر نه محفوظ کړي-

اٰمِیۡن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

د شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت مولانا اِلیاس عطّار قادري دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ ډیره ښکلې او پهٔ خپله موضوع ځانګړې رساله ده- **وَسوَسے اور اُن کا علاج**- دا رساله ولولئ! اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! د شیطاني وسوسو نه بچ کېدو کښې به مرسته وشي-

| | |
|---|---|
| نفس و شیطان ہوگئے غالب | ان کے چُنگل سے تُو چُھڑا یاربّ! |
| نیم جاں کر دیا گناہوں نے | مرضِ عصیاں سے دے شِفا یاربّ! |
| طالبِ مغفرت ہوں یااللہ! | بخش حیدر کا واسطہ یاربّ![1] |

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## درېم خنډ: دُنیائي تعلقات

د عبادت پهٔ لاره کښې درېم خنډ زمونږه تعلقات دي، داسې ډېر ځل کېږي چې اِنسان د عبادت ذِهن جوړوي ◈ زړهٔ مې غواړي چې تِلاوت اوکړم ◈ درودِ پاک لولم ◈ نن به زهٔ ډېر نفلونه کووم خو ◈ کله چرته څوک دوست میلاؤ شي، د هغهٔ سره وخت پهٔ ګپ کښې تېر شي ◈ کله د بال بچ محبت خنډ جوړ شي او اِنسان د عبادت نه محرومه پاتې شي-

[1]... وسائلِ بخشش، صفحه:8079 ملتقطًا-

# یو ښه نصیحت

یو نیک بزرګ وو، د هغوئي خوا له به خلق کیناستل، او ښې ښې خبرې به یې ترې زده کولې، د هغوئي عادت وو چې کله به ترې خلق روانیدل نو ورته فرمائیل به یې: چې د دې ځائے نه بهر ووځئ نو جُدا جُدا شئ، که یو ځائے ځئ نو په خپل مینځ کښې به خبرې کوئ- یواځې یواځې چې ځئ نو کیدے شي چې د تِلاوت طرف ته مو توجه شي او تاسو په لاره د تللو په وخت د تِلاوت سعادت وموموئ! [1]

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې د دوستانو سره کیناستل، ګپونه لګول هم د عبادت نه منع کول کوي، ځکه بهتره ده چې مونږ تنهائي اِختیار کړو- دا د اِنسان فِطرت دے چې مونږ فارغ نشو کیناستے، چې بالکل فارغ یو، هیڅ هم نهٔ کوو نو سترې کیږو او بیزاره کیږو، ځکه زمونږ څهٔ نا څهٔ مصروفیت لازمي پکار وي، دلته خلق ځان په څهٔ کښې مصروفه کوي؟ ◈ موبائل راواخلي او کښیني، بیا خو که ټوله شپه هم تیره شي نو خبریږي ترینه نهٔ ◈ دغه شان چې د دوستانو سره کښیني نو ګپونه شروع کړي، ډیرې ګینټې تیرې کړي-

د دې خنډ [یعني رکاوټ] نه ځان ساتئ! کوشش کوئ چې په رَمَضَانُ المُبَارَک کښې زیات نه زیات وخت په تنهایۍ کښې تیر کړئ، په نیک کار کښې یې تیر کړئ- د دې یو بهترین حل خو دا دے چې اِعتکاف اوکړئ! ټول وخت به مو په جومات کښې تیریږي، که هیڅ هم نهٔ کوئ نو په جومات کښې د کیناستو ثواب خو به مو کیږي، بیا چې د دې

---

[1]... قیمة الزمن عند العلماء، نماذج رائعة من المحافظه...الخ، صفحه:104-

سره سره پهٔ جومات کښې د دوستانو وغيره نه لرې يۍ نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! پهٔ زيات عبادت کولو کښې به کامياب شئ۔

## ترجيحات وټاکئ!

د دې خنډ يو بهترين حل دا هم دے چې مونږ د خپلو ترجيحاتو ټاکنه اوکړو۔ حضرت عليُ المُرتضیٰ، شيرِ خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ډير د اوچتې مرتبې صحابي دے، د مسلمانانو څلورم خليفه دے، يو ځل د هغوئي شهزاده اِمامِ حَسَن مُجتبیٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د هغوئي نه پوښتنه اوکړه: بابا جانه! دا ووايئ چې آيا ستاسو زما سره محبت شته ؟ اوئې فرمائيل: آؤ! بالکل شته۔ عرض يې اوکړو: د زما د وررور حُسَين رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ سره هم محبت کوئ؟ اوئې فرمائيل: آؤ! بالکل کووم۔ عرض يې اوکړو: د مور بي بي سره هم محبت کوئ؟ اوئې فرمائيل: آؤ! کووم۔ بيا يې پوښتنه اوکړه: او د رسولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره مو هم محبت شته ؟ اوئې فرمائيل: بالکل شته - اِمامِ حَسَن رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پوښتنه اوکړه: د الله پاک سره مو هم محبت شته ؟ اوئې فرمائيل: ضرور شته۔ بيا شهزاده عرض اوکړو: پهٔ سينه کښې خو زړهٔ يو دے، بيا پهٔ يو زړهٔ کښې دومره ډير محبتونه څنګه راجمع کيدے شي؟ حضرت علي المُرتضیٰ، شيرِ خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ بَابِ مَدِينَةُ العِلم (يعني د عِلم د ښار دروازه) ده، اوئې فرمائيل: ځويه! زهٔ ستاسو د ټولو سره محبت کووم (خو دا ټول محبتونه د الله پاک د رضا د پاره دي)، څنګه چې د عبادت وخت شي، زهٔ تاسو ټول هير کړم او د الله پاک پهٔ عبادت کښې مصروف شم۔ (1)

---

1... انوارِ جمالِ مصطفےٰ، محبتِ الٰهی کا بیان، صفحه:414۔

سُبْحٰنَ اللّٰه! دا دي ترجيحات---!! ◈ زمونږ د خپلو بچو سره هم محبت دے ◈ د دوستانو ملګرو سره هم مينه ده ◈ د ګاؤنډيانو سره هم کښينو ◈ د ترور د ځامنو، د ماما د ځامنو، د ترۀ د ځامنو سره هم ناسته پاسته کوو، دا ډيره ښه خبره ده خو انداز دا پکار دے چې څنګه د عبادت وخت شي، پۀ دې کښې هيڅ محبت، هيڅ تعلق پۀ عبادت کښې خنډ جوړ نۀ شي- لهٰذا خپل وخت تقسيمول پکار دي- چا له څومره وخت ورکول دي، خپل د دُنيا تعلقات کله ساتل دي، د اخرت د ګټلو د پاره کله او څومره وخت ويستل دي، دا جدول جوړ کړئ- که زيات نۀ وي نو چې دومره خو مونږ اوکړو چې کوم د عبادت خصوصي وختونه دي، کم از کم هغه وختونه خو مونږ فارغ وساتو، مثلاً ◈ د تهجدو وخت د عبادت دے، ځکه د پيشمنې د پاره پاڅيدل دي، پۀ دغه وخت کښې هيڅ مصروفيت مۀ ساتئ، د موبائل نه هم ځان لرې ساتئ او د تهجدو، بيا د دې نه پس د څۀ نا څۀ ذِکر او درود او اِستغفار عادت جوړ کړئ ◈ دغه شان د پينځه وارو نمونځونو پۀ وختونو کښې چې څنګه اذان وشي، هر تعلق يو طرفته کړئ او جومات ته لاړ شئ ◈ دغه شان د اِشراق او د څاښت د نفلونو پۀ وختونو کښې هم څۀ مصروفيت مۀ ساتئ ◈ د ماښام د نمونځ نه پس د اوابينو نفلونه کولے شي، پۀ دې وخت کښې هم څۀ مصروفيت مۀ ساتئ، داسې چې مونږ خپل وخت تقسيم کړو- د دې پۀ برکت به هم اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! مونږ د روژې د مياشتې زيات وخت پۀ نيکو کښې پۀ تيرولو کښې کامياب شو-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## څلورم خنډ: دُنیا

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د عبادت په لاره کښې څلورم خنډ دُنیا ده- دا ډېر خطرناک خنډ دے- نن سبا چې لکه څنګه چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَک برکتونه راوریږي، رَمَضَانُ الْمُبَارَک د نیکو د سپرلي موسم دے خو افسوس چې دلته د دې نه د تجارت د سپرلي موسم جوړولے شي- د صحابهٔ کرامو عَلیھِمُ الرِّضوَان دا انداز وو چې د شعبان شریف نه به یې ځان د روزې د میاشتې د عبادت د پاره فارغول شروع کول خو دلته خلق د روژې په میاشت کښې هم ځان ډېر مصروفه کړي، په عامو ورځو کښې خو بیا هم نـمونځونه په وخت باندې کوي خو په رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې مصروفیت دومره زیات شي چې د عبادت طرف هم توجه نهٔ وي--!!

الله پاک دې زمونږ په حال باندې رحم اوکړي- دا ښه انداز نهٔ دے- مسلمان اِنسان وروړمبے د خپل دِین فِکر کوي، بیا دُنیا ګټي- یقین اوکړئ که چرې مونږه دا انداز اِختیار کړو، مونږ د نیکو ګټلو فِکر اوکړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! د دُنیا کارونه به هم پخپله اسان شي-

## اخرت له ترجیح ورکوئ!

حضور سرورِ کائنات، شاهِ موجودات صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوک چې د دُنیا سره محبت کوي هغه خپل اخرت ته نقصان رسوي او څوک چې د خپل اخرت سره محبت کوي هغه د خپلې دُنیا نقصان کوي لهذا باقي پاتې کیدونکې (اخرت) ته په فنا

کیدونکي (دُنیا) باندې ترجیح ورکړئ۔ [1]

الله پاک دې زمونږه د دُنیا په ځائے د اخرت د طلب ګار جوړیدو، د اخرت د فِکر کولو او دې د پاره په تیارۍ کښې د مصروفه کیدو توفیق راعطا کړي۔

اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د نـمونځونو د وختونو د ایپلي کیشن تعارف

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! اوقاتُ الصلاة *(Prayer Times)* موبائل ایپلي کیشن دے، کوم چې د دعوتِ اِسلامي شعبې آئي ټي ډیپارټمنټ په کال 2011 کښې جاري کړے وو، اوسه پورې دا په لکونو کرته ډاؤن لوډ کړے شوے دے۔ ډیر ښکلے دے بلکې داسې ووایئ چې د هر مسلمان د پاره ضروري ایپلي کیشن دے۔ په دې کښې څه څه دي؟ واورئ! په دې ایپلي کیشن کښې ◈ د پینځه واړو نـمونځونو د روزانه او د میاشتې وختونه ورکړے شوي دي، د دې ایپلي کیشن په مرسته تاسو د ټولې دُنیا د لکونو ځایونو د نـمونځونو وختونه او د قبلې اړخ معلومولے شئ ◈ په دې کښې د تِلاوت د جدول جوړولو آپشن هم ورکړے شوے دے ◈ تفسیر صراط الـجنان هم په دې کښې شامل دے ◈ خدائے دې نۀ کړي که چرې نـمونځونه قضا شوي وي نو د دې ایپلي کیشن په مرسته د قضا نـمونځونو په حساب کولو د هغې د ادا کولو جدول هم جوړیدے شي ◈ د

---

[1]… مسند امام احمد، مسند الکوفیین، حدیث ابی موسیٰ الاشعری، جلد:8، صفحه:92، حدیث:20227۔

جُمعې په وخت د موبائل آټو سائلنټ کولو آپشن هم موجود دے په کوم کښې چې د جُمعې وخت په درج کولو موبائيل په آټو سائلنټ لګيدے شي- د دې نه علاوه نور هم ډير فيچر په‌دې ايپلي کيشن کښې موجود دي- هم نن دا ايپلي کيشن ډاؤن لوډ کړئ، د دې سهولتونو نه پخپله هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!　　　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د بيان په اخره کښې راځئ چې يوه شرعي مسئله زده کړو:

## صحيح څۀ دي؟

(د صحيح شرعي مسئلې يا په خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ په ګوته کول)

**مسئله:** د روژې په حالت کښې ويښتۀ او نوکان کټ کول جائز دي-

**وضاحت:** د روژې په حالت کښې د سر ويښتۀ، د ترخونو ويښتۀ، د نوم نه لاندې ويښتۀ کټ کولے شي او نوکان هم کټ کولے شي- په دې سره په روژه باندې هم اثر نۀ پريوځي- آؤ! د دې خبرې خيال ساتئ چې نوکان په نوک تراش (*Nail cutter*) سره کټ کول پکار دي که چا په خُله نوکان کټ کړۀ او وه يې خوړل نو د هغۀ روژه به ماته شي- [1]

الله پاک دې مونږ ته د صحيح اِسلامي احکامو د زده کولو او په هغې باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

[1]... مدنی مذاکرہ، 2 رمضان المبارک 1441ھ، بعد نمازِ عصر ملتقطاً۔

## د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظیفه)

## يَا قَادِرُ

که څوک په څۀ سخته کښې راګير شئ نو هغه دې 41 کرته **يَا قَادِرُ** لولي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! اساني به پيدا شي- (1)

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] ... مدنی پنج سوره، صفحه: 255-